## لوګر د لوړو زده کړو مؤسسه
## علمي او محصلانو چارو معاونیت
## کرنې پوهنځی



### د کرنې پوهنځي مخینه :

د کرنې پوهنځی د لوګر د لوړو زده کړو مؤسســې په چوکات کې د د لوړو زده کړو محترم وزارت د عالي شورا د (۳) ۱۳۹۶/۱۲/۲۷ هـ ش د حکم په اســاس له دوه څانګو اګرانومی او اقتصـاد او توســعې سره منظور او په ۱۳۹۸ هــ ش کال د کانکور له لارې د لوړو زده کړو د ترلاسه کولو لپاره ورته محصلین ورپیژندل شول.

### د کرنې پوهنځي د رهبرۍ پیغام :

د لوګر د لوړو زده کړو مؤسسې د کرنې پوهنځی د هېواد په کچه د لوګر د لوړو زده کړو د مؤسسې په چوکاټ کې یو علمي بنسټ دی، چې په پوره ژمنتیا سره د هر اړخیزو هڅو او د قدرمنو هېوادوالو په مرســته ټولنې ته مسلکي، مجرب، په اسلامي او ملي روحیه سمبال کادرونه روزي. راځئ د دغه رســالت په ادا کولو کې ټول په یو غږ او یو هوډ دغه شــعار چې (هېواد سمسوروو) لاس یو او نوموړی شعار په عمل کې پلي کړو.

**پوهنیار احمدنور ستانکزی**
**د کرنې پوهنځي رئیس**

**Email:** agriculturefaculty5@gmail.com



### د کرنې پوهنځي لرلید:

د کرنې پوهنځي هوډ لری چې د یو علمي بنسټ په توګه د هیواد د پایداره پراختیا لپاره د کرنې په برخه کې نوښــتګر، کادري، مســلکي، او د کاري مارکیټ د غوښــتنو مطابق بشرــي ځواک په وړاندی کولو کې مخکښــه پوهنځی واوسي.

### د کرنې پوهنځي ماموریت:

د کرنې پوهنځی د یو علمي بنســټ پـه توګه هڅه کوي چې د ټولنې د اړتیـاوو په نظر کې نیولو سره د تدریس، عملي زده کړو او علمي څېړنو په وسیله په اسلامي او ملي روحیه روزل شوي مسلکي بشري ځواک ټولنې ته وړاندې کړي.

### د کرنې پوهنځي ارزښتونه:

1. اسلامي او ملي ارزښتونو ته درناوی.
2. په ټاکلي وخت کې د فعالیتونو ترسره کول.
3. په کړنو کې ریښتینولي او ژمنتیا.
4. په ښوونیز او تحقیقي چوپړتیاوو کې غوره کیفیت په نظر کې نیول.
5. حساب ورکونه.
6. نوښت او ابتکار.
7. رونتیا، عدالت او برابری.
8. د هیواد د نافذه قوانیو مطابق کړنې ترسره کول.

### د کرنې پوهنځي څانګې:

کرنې پوهنځي لاندې څانګو لرونکی ده..

1. **اګرانومي**
2. **کرنیز اقتصاد او توسعه**

په پورته دوه څانګو کې محصلینو ته خپل درسي خدمتونه وړاندې کیږي.



### د کرنې پوهنځي کمیټې:

1. کیفیت د تضمین کمیته
2. د ستراتیژیک پلان کمیته
3. بریښنایی زده کړو او نشراتو کمیته
4. د څېړنو کمیته
5. د نصاب کمیته
6. د نظم او دسپلین کمیته
7. د سرسبزی کمیته
8. د ازموینو کمیته
9. فرهنګي کمیته
10. روغتیا او سپورټ کمیته

### کرنې پوهنځي کې موجوده امکانات:

I. تحقیقي فارم
II. لابراتوار( چې وسایل یې د اخیستو په حال کې دي)
III. کتابخانه
IV. انترنیټ



### تدریس وختونه:

سهارنی دوره له ۰۸:۰۰ بجو څخه تر ۱۲:۰۰ بجو پورې.

**لوګر پوهنتون د کرنې پوهنځی / Facebook**

د بریښنایي زده کړو او نشراتو کمیټې لخوا